پس دايمان دي چي انسان ته په پيښو او حوادثو کښي درول او ونډي اندازه تعينوي، اصلاً انسانان برابر دي خو په هغوکي فرق دايمان اوعقيدي په وجه دي دچاچي ايمان قوي وي دهغه په لاس به ستر ستر کارونه ترسره کيږي او داچي قرآن عظيم الشان ابراهيم عليه السلام ته دامت خطاب کوي داځکه چي کله کله يو شخص دومره ستر شي چي ديولوي امت کار دهغه په واسطه کيږي يوشخص ديوستر امت کار کوي اودالوي والي اوستروالي او دهغه مؤثريت په پيښو او حوادثوکي دهغه قوي اوستر ايمان دي.

دچاچي ايمان ضعيف وي په پيښوکي يي رول هم کم وي او لکه چي پيغمبر (ع) فرمايي چي په مسلمانانو به يووخت داسي هم راشي چي دښمنان به دهغوي دختمولو او خوړلو لپاره له هري خوانه لاسونه را اوږده کړي لکه دطعام په طرف چي هرڅوك دهغه طرف ته لاس اوږدوي، صحابه تعجب کوي چي دا به کوم وخت وي چي مسلمانانو باندي داسي حالت راځي چي دښمنان به يي دخوړلو لپاره له هري خوانه لاسونه ور اوږدوي ،سګر دا به زمونږ دضعف اوقلت وجه وي پيغمبر (ع) فرمايي چي نه هلته به ستاسو شمير ډيرزيات وي تاسو به دغسي وي لکه داوبو دسرخس اوخاشاك تعداد به موزيات وي خو وزن کم اودحوادثو په مسيرکي به خوځيږي هغه فرمايي کله چي ددنيا په نسبت مينه اود آخرت اومرګ نه ويره په تاسوکي راپيدا شوه نوهلته به تاسو دغسي داوبو دسرخس اوخاشاك په شان وي.

ددنيا په نسبت مينه اودمرګ نه ويره، خوف قومونه دومره بي ارزښه کوي چي نه بوازي په پيښوکښي يي څه اثرنه وي بلکه هغه دحوادثو دجريان سره داوبو دسرخس اوخاشاك په شان خوځيږي. دا خپله ښيي چي په خداي (ج) ايمان په آخرت باور اويقين دمرګ نه ويره نه درلودل دقرباني جذبه ډيرستر اولوي مقصد په خاطر مرباني ته تيارېدل دادي چي دانسان وزن اوپه حوادثو اوپيښوکښي دهغه ونډه تعينوي.

شهيد محمد سميع "خادم" له شکه پرته چي زمونږ ددي جهاد داتلو اوقهرمانو قوماندانانو څخه ؤ.

هغه لوي ګروپ نه درلود ،محدود ګروپ يي درلود ولي ډير مؤثريت زړه ورمجاهدين دهغه په ملاتړ کښي راټول ؤ شايد دمحمد آغي دټولو مجاهدينو نه دښمن دومره ويره نه درلوده لکه يواځي دمحمد سميع "خادم" شهيد نه.دا اوس له ماسره دټورن جنرال محمد ولي خط دي چي محمد سميع خادم ته يي ليږلي وؤ هغه يي ملي مصالحي ته بللي اوډير قوماندانان په دغسي خطونوتوکه شوي ؤ او ددښمن سره يي په پټه پايه څرګند بول معاهدي امضا کړي وي او هغوي دملي مصالحي بلنه منلي او اورځدونه يي کړي و څمنوڅرګند اوځيني پټ، سره له دي چي له محمد سميع خادم شهيد سره يو محدود ګروپ ؤ ولي جنرالان ورته خطونه ليږي خو هغه دي ته تيار نه دي چي ددښمن سره يوه خبره وکړي اوسوله روغه جوړه وکړي ملي مصالحه ومني، الله (ج) دي دهغه شهادت قبول کړي، هغه دي دهغه کورني او دسنګرورونو ته اجراو صبر وريه برخه کړي.

ورونو دايمان لار دشهادتونو اوقربانيو لار ده او قرآن همدغسي فرمايي.

دتاريخ په اوږدوکي ډير پيغمبران چي دهغوي په څنګ کي خداي پرستان دريدلي اوجنګيدلي او دخداي (ج) په لاره کي چي هغوي ته کوم مصيبتونه رسيدلي دهغه په وجه مايوس شوي نه دي احساس دضعف او ناتواني يي نه دي کړي، بيچاره ګي ته نه دي تسليم شوي او الله (ج) دداسي صابرانو سره مينه ساتي، يعني هغوي د مصيبتونو نه بعد مايوس شوي نه دي، دا ياس او ناامېدي ده چي دانسان شورشوق اونشاط ختموي، هغه دورانډي تللو استعداد له لاسه ورکوي، هغوي دمصيبتونو سره مخامخ شوي خو دمصيبتونو په وجه هغوي سست شوي نه دي عزم اواراده يي نه ده ختمه شوي دمستقبل په نسبت مايوس شوي نه دي ،اودهغوي داداميدواري او اطمينان نه دي ختم شوي په هغه شور اوشوق هغوي خپل جهاد ته ادامه ورکړي چي په ابتدا کي يي داجهاد شروع کړي او نه هم هغوي احساس دضعف اوناتواني کړي خپل ځان يي ددښمن په مقابله کي ضعيف نه دي شميرلي قرباني يي ورکړي اوستر ستر شخصيتونه دهغوي دصف نه په شهادت رسيدلي ولي ددغو قربانيو مصيبتونو اوشهادتونو په وجه هغوي احساس دضعف او ناتواني نه دي کړي اوبيچارګي ته هم نه دي تسليم شوي يعني هغوي له دښمن سره دسازش پيغور نه دي مثلي هغوي حقارتونو ته نه دي تسليم شوي اودغسي حال يي نه دي مثلي چي په هغه کي ذده او داسلام تحقير مضمروي دمصيبتونو نه بعد نه دهغوي شوراوشوق ختم شوي اونه يي دمستقبل په نسبت خپله اميدواري ختمه شوي، دا صابران دي.

خداي (ج) له دغسي صبرکونکو سره مينه لري اودالله ج نصرت اوتائيد به دهمدغسي صابرومجاهدينو په حال شامل وي.

کوم کسان چي دالله (ج) خوښيږي الله (ج) ورسره مينه لري خپل نصرت او تائيد به دهغوي په حال شاملوي دهغوي صفت همدغه دي، مصيبتونو سره مخامخ کيږي قرباني ورکوي او ورونه يي، همسنګران يي په شهادت رسيږي خو هغوي مايوس کيږي نه ،صابراوشکيبا دي له دغو صبر کونکومجاهدينو سره الله (ج) مينه لري قرآن عظيم الشان په ګڼ شميرآيتونوکي دغه مطلب ته اشاره کوي چي وروستي فتح دهغه ډولکي ده چي دخپل حريف اورقيب په نسبت هغه دستونزو او کړاوونو په وړاندي زيات صابراوشکيبا دي.

اودبني اسرائيلو په باب قرآن فرمائي

ستاترب نيکه اوغوره کلمه دبني اسرائيلو په نسبت اتمام ته ورسيده په دي خاطرچي هغوي صبر وکړ يعني که الله (ج) بني اسرائيلو ته په ټولو عالمونو فضيلت ورکړ هغوي يي دنورو قومونو لپاره امام وګرځول دځمکي خلافت يي هغه ته وسپاره اودځمکي ټولي شتمني يي هغه ته په ميراث ورکړي بهترين قوم له هغوي نه جوړشو او دالله (ج) ټولي نيکي وعدي دهغوي په په هکله تحقق وموندو وجه يي ددوي صبر وو يعني اسرائيلو صبر وکړ ددغه صبر اواستقامت په وجه الله (ج) هغوي ته په ټولو قومونو فضيلت اوبرتري ورکړه نيك عاقبت دصابرانودي الله (ج) به دصابرانو ملاتړ کوي وروستي فتح دصبرکونکودي اونيك انجام دصبرکونکودي، الله (ج) دي مونږ ته هغه صبر راپه برخه کړي چي دهغه په وجه دخداي (ج) په لاره کي ټولي ستونزي اوکړاوونه ورغملي شو قرآن عظيم الشان ددي آيت نه بعد فرمايي چي: دهغه صبر کونکوچي خداي (ج) ورسره مينه اومحبت ساتي سره له دي چي دښمن په مقابله کښي دمصيبتونو سره مخامخ شوي ولي ددي سره سره دهغوي وينا دابه چي يا الله مونږ ته خپل ګناهونه وبښي اويه کار کښي زمونږ اسراف اوتيري مونږ ته عفوه کړي او زمونږ قدمونه ددښمن په وړاندي ثابت او استوار کړي، پس له دي چي مصيبتونو سره مخامخ شوي هغوي دشکست عوامل يي ددښمن نظامي برتري ګڼي نه دخپلو امکاناتو او وسايلوکميت او محدوديت بلکه ددي وجه خپل ګناهونه ، خطاګاني اواشتباهات ګڼي اودمصيبتونو سره دمخامخ کيدونه بعد هغوي همدا دعا کوي، خدايه مونږ ته زمونږ ګناهونه اويه کارکي تيري اوتجاوز وبښي او زمونږ قدمونه ددښمن په وړاندي ثابت، استوار اوټينګ کړي ،يعني هغوي دخپل جهاد دادامي اراده لري دخداي (ج) نه په دي لاره کي دثبات او استقامت دعا کوي اودشکست عوامل هم خپله غلطي ګڼي لکه چي حضرت عمر(رض) خپلو قوماندانانونه همدغه ليکي زه په تاسوباندي ددښمن دډيروالي نه ويره نه لرم او ستاسو له ګناهونو نه په تاسوويره لرم ځکه زمونږ دګناهونو په وجه دي چي دالله (ج) له مرستي اوتائيد نه به محروم کيږو او دښمن ته به خداي (ج) په مونږ باندي غلبه ورکوي اماکه مونږ په خپلوعهدوکي له خداي (ج) سره صادق ؤ نوالله زمونږ دفتحي اوغلبي ذمه واردي، بيا ممکن نه دي چي دښمن دي دخپل ډير ښت وسايلوا وامکاناتو په وجه په مونږ غالب شي بيا به خداي (ج) دخپلو غيبي لښکرو په واسطه زمونږ مرسته کوي اوالله ددي ضامن دي او ددي وعده يي کړي، خداي (ج) به خپلو وعدو کي ريښتني اوصادق دي، ممکن نه دي چي دالله (ج) وعده دي څوك تکذيب کړي شي

دهغه دتحقق مخه دي ونيولي شي خودالله (ج) ټولي وعدي مشروط دي الله فرمايي له ماسره چي په کومه خبره تاسو عهدلري په دي وفا وکړي زه به په هغه وعدو وفا کوم چي له تاسو سره مي کړي پس الله (ج) چي مسلمانانو سره دفتحي ،غلبي دغيبي لشکر ودليږلو، په دښمن دبرتري د خپل نصرت اوتائيد وعده کړي دا مشروط په دي دي چي انسان په خپل عهد اوپيمان کي له خداي (ج) سره ريښتوني اوصادق وي ، مونږچي له الله ج سره په کومه خبره وعده لرو ، هغه تر سره کړو ، دمسلمان شان دغه دي چي دبريالي اوغلبي په وخت کي مغروروکيږي نه دا دالله (ج) عنايت ګڼي او امکانات وسايل په دي پوري نه مربوطوي ،دخپل تدبير پوري يي نه مربوطوي ، هره فتح غلبه او دخداي (ج) هر عنايت اونعمت دا دخداي (ج) پيرزوينه ګڼي دالله (ج) مرهون وي ، ممنون وي اوفتح اوغلبه په هغه کي غرور او تکبر نه پيداکوي او دمصيبتونو ، شکستونو په وخت کي هغه مايوس کيږي نه ،ذلت ته نه تسليميږي . دفتحي اوغلبي په وخت کي عدم غرور اوتکبر اودشکستونو په وخت کي عدم ياس اونا اميدي دا دايمان لويه تقاضا او لويه نښه ده تا چي داسي کسان وليدل چي هغه دفتحي اوغلبي په وخت کي مغرور کيږي نه اودشکستونو په وخت کي مايوس کيږي نه ، دا دهغه دلوي ايمان نښه وګڼه ګوري قرآن عظيم الشان پيغمبر (ع) ته همدغه هدايت کوي چي کله دخداي (ج) مرسته راغله او تاوليده چي خلك پوځ پوځ دخداي (ج) په دين کي شامليږي نو دالله (ج) حمد اوستاينه کوه اوله هغه نه مغفرت غواړه کله چي دي وليدل خداي (ج) خپل نصرت اوتائيد ستا په حال شامل کړ او دادي خلك پوځ پوځ دخداي (ج) په دين کښي داخليږي نو دالله (ج) ستاينه اوتسبيح کوه او له هغه نه مغفرت وغواړه. پس دفتحي اوغلبي په وخت کي عدم غرور عدم تکبر چي له دي نه ځان ساتل ډيرګران دي ډيرخلك داسي دي چي دوفرت اوکثرت په وخت کي بيا هرڅه هير کړي غروراوتکبر دي حدته ورسيږي چي له هغه نه يووحشي او درنده انسان جوړشي چي دهيڅ څه پروا نه لري اوهمدغه کسان چي دفتحي اوغلبي په وخت کي سخت مغروروي اوانسان انسان نه شمري بيا دشکستونو په وخت کي دومره ذليل اوسپك شي چي هر سپکاوي ذلت اوحقارت ته تسليم وي سړي يي مقايسه کولي نشي چي دا همغه د فتحي اوغلبي دوخت انسان دي همغه مغرور، چي اوس دومره سپك او ذليل دي چي دغسي حقارتونوته تسليم شوي، يوسړي يي تصور نشي کولي پس څوك چي ايمان نلري همدغسي وي چي په ناپي لاس برشو اوفتح اوغلبه يي په برخه شوه نومغرور متکبر او وحشي دي اوچي شکستونو سره مخامخ شو بيا ذليل اوسپك دي اما دايمان تقاضا دا ده چي انسان دفتحي اوغلبي په وخت کي مغرور نشي اودشکستونو په وخت کي مأيوس نه شي اويه هرصورت يي په خداي (ج) بروسه وي هغه ته يي اميد وي اوخپل انجام اوعاقبت دخداي (ج) په لاس وګڼي.

ورونو داسلام لار همدغه دهجرت، جهاد اوشهادت لاره ده مونږ له خداي (ج) سره په همدي عهد کړي چي خپل مال اونفس به دجنت په بدله کي په خداي (ج) خرڅوو او دخداي (ج) په لاره کي به يي وقف کوو اوصادق او ريښتوني هم په خپل عهد اوپيمان کي له خداي (ج) سره هغه دي چي مال اونفس يي دخداي په لاره کي وقف کړ.

يعني دهغه چا دعوي دروغجنه ده چي حالاتو په هغه کي شکوك اوشبهات راپيدا کړل اويا دخداي (ج) په لاره کي يي په خپل مال اونفس جهادونه کړ دهغه دعوي دروغجنه ده الله (ج) هغه دريښتونو په صف کښي نه مني ددي معني داده چي که څوك غواړي پرخداي (ج) باندي په خپل ايمان کي ريښتني اوصادق وي نو هغه به په خپل مال اونفس دخداي (ج) په لاره کي جهاد ته تيار وي ،دقرآن عظيم الشان ګڼ شمير آيتونه همدغه مطلب افاده کوي هغه چي په شهادت رسيدلي هغوي له خپل خداي (ج) سره خپله وعده ترسره کړي خپل مقصد او ارمان ته رسيدلي مرګ به په خپل وخت راځي نه يي ځاي بدليږي اونه يي نيټه چي دامرګ دخداي (ج) په لاره کي دشهادت په مرګ بدل شي دا لوي اوستر سعادت دي داچي انسان په ژوند کي دخداي دلاري محافظوي اوشپه او ورځ په دي کي مصروف وي او بالاخره يي مرګ هم دکلمي لاندي داسلام په سنګرونوکي دکفر اوباطل سره دجنګ په دوران کي دشهادت مرګ وي دا ستر سعادت دي دشهيد محمد سميع خادم کورني دي په دي فخر کوي او د ادي دالله (ج) لويه پيرزوينه وګڼي که داکسان دمليشي په څنګ کي وي دحزب خلق او ديرچم دولي افراد وي دروسانو په څنګ کي دخپل ملت په خلاف جنګيدلي واي دشرم اودخجالت خبره خوبه هلته وه اما داچي الله (ج) په هغوي پيرزوينه وکړه هغه يي هدايت کړل او هغوي ته داسلام لاريرانسته بيايي داسلام په سنګرکي هغوي ته دجهاد توفيق ورکړ بيا په همدي کي ستر شول ماشومان وو ږيره يي نه وه رسيدلي دجهاد غږاوچت شو هغوي د کلمي لاندي ورېدل دي دعوت ته يي لبيك ووايه وسله يي واخيستله او دخداي (ج) په لاره کي يي جهاد پيل کړ په همدي کي ستر شول دورلس کاله هغوي په سنګرونوکي تيرکړل دا دالله (ج) لويه پيرزوينه ده دهغه کورني دي په دي باندي فخر کوي مرګ به په خپل وخت راځي له دانسان په پيدا ښشت کښي چي له خداي (ج) نه پرته دهيچا اراده مؤثره نه ده نه مور نه پلارنه دځمکي په سر دبل هيچا ،انسان دخداي (ج) په اراده دنيا ته راځي

همدا راز قرآن عظيم الشان فرمايي چي دهغه تګ هم دخداي (ج) په اراده دي اويه دي کار کي له الله (ج) سره شريك نشته

الله (ج) هغه ذات دي چي تاسويي پيدا کړي او تاسوته يي رزق درکړيستاسو لپاره يي درزق او روزي انتظام وکړ.

شپه او ورځ راولي لمر راخيژوي له آسمان نه باران اوروي له ځمکي نه وابنه راشنه کوي تا ته دانه اوميوه راشنه کوي ددي رزق او روزي انتظام الله (ج) کړي اويه دي کي له الله سره هيڅوك هم شريك نه دي الله له دي نه ډير لوړ اوستر دي چي تاسي يي له هغه سره شريکوي.

په دغوټولورو خبروکي دالله (ج) سره هيڅوك شريك نه دي چي په دغوکي يوه خبره همداده چي دانسان دمرګ فيصله ده دانسان دمرګ په فيصله کي هم دالله (ج) سره څوك شريك نه دي اوقرآن عظيم الشان دادانسان مرګ ددي يوه نښه او علامه ګڼي چي دلته داسي يوذات شته چي نه دهغه دارادي په وړاندي محکوم يي او که داسي نه وي ، که نه دلته ديوه ذات د ارادي په وړاندي محکوم نه يي نوچي ستا روح حلقوم او ستوني ته ورسيږي بيرته يي وګرځوه که ريښتني يي يعني دا دانسان مرګ خپله دا ثابتوي چي نه دخداي (ج) دارادي په وړاندي محکوم يي ، حقيقت دادي انسان اشرف دمخلوقاتو دي خوچي دمرګ شيبه يي راورسيږي بيا نشي کولي چي دا وځنډوي ددنيا ټول وسايل ، ذرايع او امکانات علم او پوهه دا چي دهغه په خدمت کي هم وي نو يوه شيبه هم دخپل مرګ نيټه نشي ځنډولي ، داسي چي نه دلته دچا دارادي په وړاندي محکوم يي ،هغه څوك چي دهغه په اراده دنيا ته راغلي يي او دهغه په اراده له دنيا نه درومي زمونږ اوستاسو عقيده همداده مرګ به په خپل وخت راځي مخکي له مخکي نه مقدر شوي، نه يي نيټه بدليږي او نه يي ځاي اوچي څوك په دي عقيده وي اويا يي مرګ دخداي(ج) په لاره کي وي نو هغه نه له حوادثو نه مايوسه کيږي اونه هم له مرګ نه ويره ساتي حقيقت دادي چي څوك په خداي (ج) ايمان لري په اجل يي يقين وي ،په آخرت يي باوروي او له مرګ نه بعد په دوباره ژوندون هغه عقيده ولري ، هغه له مرګ نه نه ويريږي ،څوك چي له مرګ نه ويريږي حتماً يي په ايمان اوعقيده شي څه شك نشته . قرآن عظيم الشان خومونږ ته همدا وايي چي پيغمبر (ع) دټولو صحابه و لويه تمنا داوه چي دخداي (ج) په لاره کي په شهادت ورسيږي پيغمبر (ع) چي مونږ وړاندي ايمان لرو هغه مبارك فرمايي چي په هغه ذات دي زما قسم وي چي زما روح دهغه په اختيار کي دي چي زه دا ډير غوره ګڼم چي دخداي (ج) په لاره کي دي په شهادت ورسيږم بيا دي ژوندي شم بيا په شهادت ورسيږم بيادي ژوندي شم بيا په شهادت ورسيږم ،هغه دخداي (ج) په لاره کي دمسلسل شهادت تمنا کوي په يوځل شهادت اکتفا نه کوي اوهغه دا ډيرکم ګڼي دکوم ستر مقصد لپاره چي هغه لګيا دي ددي لپاره په بار بار دشهادت تمنا لري حضرت خالد (رض) چي هغه په سنګرکي دشهادت نه محروم شوي اوښکي يي بهيږي ياران يي ورته نيوس کوي چي خالده له دي ټولي زړورتيا سره سره ته اوس له مرګ نه ويريږي اوښکي دي توييږي هغه وايي چي په خداي (ج) قسم زه دمرګ نه نه ويريږم زما داوښکي توييدو وجه داده چي زه دشهادت له مرګ نه محروم شوي يم په دي ټولو جګړو کي مي شرکت کړي ټول وجود مي زخمي زخمي دي او زه دشهادت نه محروم شوي يم اوس داوس په شان په بستر کي مرم ،دهغه مرګ ورته پيغور ښکاري دا په بستر کي مرګ هغه ځان ته ديغور خبره ګڼي او په دي يي اوښکي بهيږي دهغه لوي ارمان دادي چي کاش په سنګرونوکي په شهادت رسيدلي وي مسلمان بايد دغسي وي.

حقيقت دادي چي مونږ له دغسي مرګ نه چي په بستر کي وي اودمونږ ځکه ديوځاي نه دراولېږدل ، دغرڅيدولو، په اورسوزيدلو له دغسي مرګونو نه خداي (ج) ته بايد پناه ويسو او هميشه موبايد تمنا داوي چي هغه طبعي ،محتوم او قطعي مرګ موږ دخداي (ج) په لاره دشهادت په مرګ بدل شي هغه ورورچي په شهادت رسيدلي هغوي خپل ارمان اومقصد ته رسيدلي ،خپل خپلوان يي بايد له دي نه راضي او خوشحاله وي چي دهغوي دکورني يوکس دخداي (ج) په لاره کي په خپل عهد له خداي (ج) سره وفا وکړه، خپل ارمان اومقصد ته رسيدلي ،دشهادت ستر اولوړ مقام يي په برخه شوي د قيامت په ورځ به هغه دخداي (ج) په وړاندي ددوي شفاعت کوي الله (ج) دي دهغوي شهادت قبول کړي خداي (ج) دي مونږ ته ددي توفيق راکړي چي ددي جهاد ته ادامه ورکړو ترڅو زمونږ دمجاهد ولس په لاس په ازاد او مستقل افغانستان کي يوسوچه واقعي اواسلامي حکومت قائم شي.

ورونو ! دجهاد په خلاف ستري ستري توطيي رواني دي داسلام دښمنان له دي نه سخته ويره لري چي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت قائم کړي شي ، دوي ټولو يوبل ته لاس ورکړي او ددي کوشش کوي چي مجاهدين دي په دي ونشي توانيدلي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت قائم کړي ، دمجاهدينو ترمينځ داختلافاتو راپيداکول او دمجاهدينو دهرمؤثر اقدام په خلاف وسيع غلط او دروغجن منفي تبليغات کول او خپل عمال اومزدوران دمجاهدينو له صفونو له مينځ نه استعمالول استخدامول اودهغوي په خولي دغسي خبري ايسل چي دمجاهدينو ديوالي منځ ونيسي هغه ناممکنه کړي او مجاهدين په خپلو مينځونوکي مصروف کړي

نن استعمار يواځي ددي خبري نه ويره لري چي ددنيا په کوم ګوټ اوګوښه کي دي يو واقعي اسلامي حکومت قائم شي ، هغه له دي نه ويره لري چي اسلامي امت دي بيدار شي هغه دي په خپلو پښو ودريږي ، ځکه نن اسلامي ملکونه دهغوي مستعمري دي ، دهغوي بقا په همدي حالت پوري تړلي ده ددغو اسلامي ملکونو شتمني اوسرمايي دي چي اروپا او امريکا ورباندي چليږي له دي نه قياس وکړي چي دخليج ديوواړه ملک د بوامير خصوصي اوشخصي سرمايه چي په اروپايي بانکونوکي په امريکايي ملکونو کي هلته سرمايه ګذاري شوي هغه دري سوه زره مليونه ډالر دي وګوري چي امريکا او اروپايي ملکونه دري نيم لکه فوځونه ددغه ملك نه ددفاع په خاطر خليج ته راليږي

نه په دي خاطر چي هغه دملکونو په ازادي باندي يقين لري ددي لپاره چي دهغوي يو مستعمره ختمه شويده نن زمونږ په سرمايواروپا او امريکا په مونږ حکومت کوي ، که دا نن واقعاً دخليج دنفت ځاګاني دمسلمانانو په لاس کي وي نو په اروپا او امريکا به يي حکومت کولي ،هغوي ددي په قيمت پوهيږي چي که دنفت ځاګاني ددوي دتسلط نه آزادي شوي نو په هغوباندي به څه راځي او د کوم انجام سره به مخامخ کيږي دهمدي لپاره دخليج ټول ملکونه دوي ته محتاج وي اسرائيل يي دمنطقي دژاندارم پرځير هلته ځاي په ځاي کي او بويه بل پيسي يي په دغو ملکونوجنګونه تحميل کړل ددي لپاره چي عربي ملکونه سراوچت نکړي شي اودآزادي فکر ونشي کولي له سياسي اواقتصادي لحاظه هغوي خپله آزادي ترلاسه نکړي شي بايد اسرائيل ورځ په ورځ تقويه شي اوداسرائيل توره بايد دعربي ملکونو په سرباندي هميشه ولاړه وي او دهمدي ويري اوخوف لاندي بايد ژوند وکړي چي کله هم هغه ګوري چي اسرائيلو ته يو خطرراپيدا کيږي اودهغه موجوديت تهديدوي او داسي يوملك هم راپيدا کيږي چي دامريکا په وړاندي په جرئت سره خبره وکړي نو دهغه دختمولو اراده کوي ، مونږ دعراق په نسبت سره له دي چي ګڼ شميرملاحظات لرو دافغان جهاد په دوران کي هغوي زمونږ ملاتړ نه دي کړي اومونږ دهغوي ترشانه دي دريدلي .

حتي په بين المللي مجامعوکي يي هم دروس دولو په نفع رايه نده ورکړي ولي په دي پوهيږو او دا يوحقيقت دي چي نن امريکا اواروپا په دي خاطردعراق د ټکولو لپاره دري نيم لکه پوځ خليج ته راليږلي چي هغه ګمان کوي يو اځني ملك دي چي داسرائيلو حريف اورقيب دي او اسرائيل تهديدوي .

نوهغه عراق دي چي يوملیون پوځ لري په خليج کي بل يوملك هم نشي توانيدلي داسرائيلو په وړاندي ودريږي اسرائيل په دي منطقه کي دهغوي دژاندارم حيثيت لري ، دخليج په ملکونو باندي دتسلط لپاره هغه اسرائيلو ته ضرورت لري اسرائيل دوي په ګټه جوړکړي روس اوامريکا په ګټه داسرائيلو ملك جوړکړ اوهغه يي تقويه کړي هدف داؤ چي دا اسلامي ملکونه تل دوي ته اړ اومحتاج وي او دا له تيښکي نه وتلي داسرائيلو توره هميشه دهغوي په سرباندي خوځيږي اودهمدي ويري او خوف لاندي ژوند کوي دي ته مجبوروي چي امريکايي او اروپايي ملکونو ته امتيازات ورکړي دتيلو بيه اوچته نکړي شي ، نن دتيلو دري ربعي ذخاير په اسلامي ملکونوکي دي اواروپايي اوامريکايي ملکونو پايه بل عبارت دغربي تمدن دملاتير دا تيل تشکيلوي دهمدي لپاره تاسي ګوري چي دخليج يوه عادي پيښه ، عراق راغلي په کويت يي حمله کړي داسلامي ملکونو ترمينځ داخلي مسله ده بايد اسلامي ملکونه دا خبره حل اوفصل کړي چي عراق دي له کويت نه ووځي او ددوي دا کشاله دي دروغي جوړي اودخبرو اترو له لاري حل اوفصل شي دايه اسلامي ملکونوپوري مربوط مسئله ده دا داسلامي ملکونو يوه داخلي کشاله ده بايد اسلامي ملکونه خپله دا قضيه حل اوفصل کړي اما هغه چي په ګونو ګونو دي ته منتظر ؤ چي د دي چانس او موقع تر لاسه کړي چي خليج ته خپل فوځونه وليږي نو له دي موقع نه استفاده کوي اويه محدودو ورځوکي دومره ستره لشکرکشي دري نيم لکه فوځ په څومفتو کي خليج ته رسوي . امريکا په افغانستان باندي دروسي پوځونو دحملي په دوران کي هم دخليج داکثروملکونونه حتي دپاکستان په شمول دا وغوښتل چي دروسانو راتګ افغانستان ته خطردي مونږ ته نظامي اډي راکړي ترڅو تاسو ته دفاع وکولي شو او روسي پوځونه مزيده پيشروي ونشي کړي ، هغوي په هغه وخت کي دا خبره ونه منله پاکستان ته هم داويل شوي ؤ خليج ملکونو ته هم ويل شوي ؤ.

هغوي غوښتل چي پر افغانستان باندي دروسي پوځونو دحملي نه همداګټه پورته کړي چي په دغوملکونوکي نظامي اډي ترلاسه کړي اما اوس ښه موقع په لاس ورغله نن له ورايه معلوميږي چي امريکا غواړي چي په دي منطقه کي دجنګ اوربل کړي اويه دي ترتيب په هغه منطقه باندي خپل تسلط قائم کړي نن استعماري ځواکونو ته داسلامي امت دابيداري يواځني خطردي اودهغه دټکولو اودختمولو په ټول توان اوطاقت هڅه کوي که په افغانستان کي تاسو دمجاهدينو په خلاف دا توطيي ګوري دمجاهدينو په خلاف تبليغات ګوري ددي يوازني وجه داده چي هغوي داسلام نه ويريږي داسلامي امت ددوباره بيداري نه ويريږي

دا دحزب اسلامي په خلاف داوسيع تبليغات دڅه لپاره دي مونږ څه ګناه کړيده دچا په خلاف جنګيدلي يو چا ته موصدمه رسولي، ولي دحزب اسلامي په خلاف دا ټول تبليغات کيږي بي بي سي ، صداي امريکا ، راديو ماسکو اوکابل راديو ،کابل راديو اومسکو خو ددي لپاره چي ورسره جنګيدلي يو وجه يي هم څرګنده ده بي بي سي ولي ،صداي امريکا ولي اروپايي ملکونو داخبري آژانسونه دڅه لپاره، دهغوي ټول مطبوعات ولي دحزب اسلامي په خلاف لګيا دي ، هغوي پوهيږي چي حزب اسلامي دغسي يوموثراومنظم قوت دي چي که هغه روغ رمټ پاتي شي اودافغانستان قضيه هم دجهاد له لاري حل شي نو کيدي شي له دي قوت نه په آينده کي په دي منطقه حتي په ټوله دنيا کي دهغوي ګټو اومصالحو ته خطرمتوجه شي ددي لپاره بايد حزب اسلامي ونکوي داسي شپه نشته چي هغه دي دخپلو تبليغاتو له لاري حزب اسلامي ته څه نيش ورنکړي کله مستقيماً دخپلو مبصرينو له لاري اوکله هم دخپلو ايجنټانو په خوله دهمدغسي مقاصدولپاره يي استعمالوي ددغسي ورځي لپاره يي تربيه کوي.

دچين او دماسکو ترمينځ يووخت مناسبات سخت تيره شول خروشوف دهغه وخت رئيس جمهور خپلي بيانيي کي چي په چين او مائوتسي دون باندي سخت په غوسه وو نو هغه په بيانيه کي وويل چي دچين حالت داسي دي چي مانه هغه شپي ورځي رايادوي چي ما په يوه فابريکه کي کارکولو نو ستړي او خسته به وو چي له کاره به رافارغ شو ددي لپاره چي خپله طبعه خوشحاله کړو نويوماشوم ته به مودوه روبي ورکړي چي خپل مور اوپلارته ښکنځلي وکړه هغه به لاړ دهمدغي دوه روبيو لپاره به يي خپل مور او پلار ته ښکنځلي کولي او مونږ به ورته خوشحاله ؤ ټوکي ټکي به موکولي ،نوځيني همدغسي دي چي دوه روپي ورته ورکړي چي تر څو خپل مور اوپلار ته ښکنځلي وکړي متاسفانه چي زمونږ ځيني چي ستر شوي اوله هغوينه زمونږ توقع او انتظار هم ستري دي خو دومره هم متوجه نه دي چي دښمن يي دخپلو مقاصدولپاره استعمالوي ددي تبليغاتو وجه څرګنده ده او هغه له دي نه ويره لري چي دافغانستان قضيه دي دمجاهدينو په لاس حل اوفصل شي او بنادي يو اسلامي حکومت قائم شي نوهغه تنظيمونه چي داسلامي حکومت په جوړيدو ددي جهاد په ادامي اوکاميابي کي مؤثره ونډه لري له هغه نه ويره لري په هغه غوسه دي اودهغه په خلاف خامخا بايد دا وسيع اومنفي تبليغات وشي مونږ ددي پروا نه لرو دخداي (ج) نه ممنون اوسپاس ګذاريو چي دا غيراسلامي قوتونه زمونږ نه څه طمع نه لري ، متاسف به هله ؤو چي هغوي له مونږ نه طمع درلوده زمونږنه يي ويره نه درلودلي زمونږ په خلاف يي تبليغات نکولي بلکه زمونږ په ګټه يي څه ويلي په هغه صورت کي موبايد سخته ويره درلودلي مشوش وي چي دايه مونږ کي څه خلاده څه نقص د ي چي کافران، داسلام دښمنان له مونږ نه طمع اواميد لري.

زه په دي باندي له الله (ج) نه ممنون اوسپاسګذاريم چي کافران له مونږ نه راضي نه دي اومونږ نه طمع نلري.

که له مونږ نه راضي وي په خپل ايمان به ويريدلو که له مونږ نه يي طمع درلودلي نويه خپل ايمان به مو ويره درلوده ځکه قرآن عظيم الشان همدغسي فرمايي يهوداونصاري به هيڅ کله له تانه راضي نشي ترڅو ته دهغه پيروي اوغلامي ونه مني اودهغوي ملت اوکيش قبول نکړي ترڅو چي دهغوي په دين نه راونه ګرځي کوم ملت چي هغوي جوړکړي کوم دين چي لري کوم مسلك ،نظراومکتب چي هغوي تعقيبوي ترڅوچي دهغوي دغلامي حلقه په غاړه کي وانه چوي هغوي نه تسليم نشي خپل دين پريږدي دهغوي دين قبول

(٦ مخ)

ارشادنبوي (ص)

کسیکه غیبت کرده شد درحضورش برادري مسلمانش را پس یاري نرسانید برادرغایبش را (غیبت کنند ه را منع نفرمود) واو درحالیکه میتوانست غیبت شونده را یاري کند ، خوارمیسازد چنین شخص را خداوند تعالي دردنیا وآخرت . الموطاء

قوماندان صوفي محمد حنیف شهید شو

دلوګر ولایت دپل علم ولسوالي دتیوک جبهي تکړه اوپتلي قوماندان صوفي محمد حنیف له دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کي په شهادت ورسید ، نوموړي د ۱۳۵۸ کال راهیسي دروسانو اودهغو دګوډاګیانو پرضد په وسله وال جهادکي دمجاهداوقوماندان په صفت په ډیروعملیاتو کي برخه اخستي او دښمن ته یي ډیرزیانونه رسولي .

قوماندان صوفي محمد حنیف دروان کال د میزان میاشتي په ۲۸ نیټه دشاغاسي کلا دغره په یوه جګه څوکه کي پداسي حال کي دملحددښمن دمیزایل په مرمي شهیدشوچي پرملحددښمن یاندي دحملي لپاره یي سنګرونه جوړول . اناالله واناالیه راجعون

به اطلاع عموم برادران مجاهد ومهاجررسانیده مي شود که فاتحه برادرشهید صوفي محمدحنیف فرزند بهارګل مسکونه قریه پورک پل علم مرکزولایت لوګر روزیکشنبه مورخ ۲۰ عقرب ازساعت ۸ - ۱۲ ظهر درمسجد حضرت نعمان جوارکلنیک داکترولي ناصري واقع نصرت مینه (شمشتو) ګرفته مي شود ، بااشتراك تان درین محفل روح شهدا راشادسازید .

قوماندان مامور مسکین یار په شهادت ورسید

شهید مامور مسکین یار دسیدمحمدزوي دننګرهار ولایت دمهمند دري دولسوالي دګردي غوث دکلي داتمانزیو په یوه دینداره کورني کي په ۱۳۴۰ کال وزیږید .

دشور دکودتا په منځ ته راتلوسره دملحدرژیم پرضد فعالیت شروع اوپه ۱۳۵۸ کال کي ئي دهجرت لاروینوته اودسرولښکرو پرضد ئي په وسلوال جهاد لاس پوري کړ .

څه موده وروسته ئې دهیري میړاني اوډلاوري له امله دقوماندان په صفت وټاکل شو .

مامور مسکین یاردطورخم دکندك اوکمرك په فتحه کیدو برسیره په پیرونوروجګړوکه دلعل پوري دعلاقه داري فتح کیدل ، له وکي نه ترکمکي خیبر ۶۶ غنډپوري دګردي غوث قرارګاه ، دعزکي پوستو ، دهزارناو ، باسول ولسوالي ، فارم ۳ ، دګوشتي ولسوالي، نظم خاص ، ثمرخیلو ، خوش ګنبد اوفارم هوي په ټولو مشهوروجګړوکي په پوره میړانه اواخلاص سره خپل ګامونه اوچت کړي دي بالاخره دروداتو دولسوالي دمرزیني دکلي داول خط په دوهم سنګرکي دجهادي شوري په غونډه کي دخپل عمومي امیر زاهد ابراهیمي اونورو اوو تنو قوماندانانو سره یوځاي د ۱۳۶۹ کال دمیزان دمیاشتي په ۱۴ نیټه دشنبي په شپه دشهادت لوړمقام ته ورسید

دشهید مجاهد ورور نوراجان (دیوانه) لنډي سوانح

شهید نوراجان مشهورپه دیوانه د حاجي حبیب الرحمن خان زوي دننګرهار ولایت دمهمند دري ولسوالي دګردي غوث دکلي داتمانزیو په یوه دینداره کورني کي په ۱۳۴۴ ه کال کي زیږیدلي و .

نوموړي ورور دشوردکودتا سره سم د مجاهدینو په صف کي دملحدرژیم پرضد په وسلوال جهاد لاس پوري کړ، په ۱۳۵۸ کال ئي دهجرت لاروینوته اوله څه مودي وروسته دسرګروپ په صفت وټاکل شو .

نوموړي دخپلي مبارزي په دوران کي په مختلفو جګړوکه دبکي ، کمکي خیبر ، ګردي غوث قرارګاه هزارناو ، باسول ، فارم ۳ ، ثمرخیلو ، خوش ګنبد اوفارم هوي په مشهوروجګړو کي په پوره میړانه اواخلاص برخه اخیستي وه .

بالاخره دروداتو ولسوالي دمرزیني په سیمه کي د ۱۳۶۹ کال دمیزان دمیاشتي په ۱۴ دشنبي په شپه په اتویجو دجهادي شوري په غونډه کي دخپل زړه ورقوماندان ، اوجهادامیر زاهد ابراهیمي په ګډون دشهادت لوړمقام ته ورسید .

میرزا شرین احمدزبیر معاون لشکرایتار حوزه النصر غوربند سبز پارسا به شهادت رسید

برادر میرزاشیرین مشهوربه احمدزبیر فرزند صوفي سخیداد ۳۸ سال قبل از امروزدریك خانواده متدین درقریه قطندرولسوالي سبزپارساه ولایت پروان دیده به جهان کشود.

دردوران که مسئولیت جبهه بدوشش بود برعلاوه امورات جهادي درکارهاي فرهنګي ، تعلیمي ... وآبادي راه ها سعي بلیغ به خرج داد درخزان سال ۱۳۶۸ به صفت معاون لشکرایتار حوزه النصر غوربند سبزپارساه مقرر ویا برادرعبدالروف قوماندان لشکر دربه میان آمدن نظم ونسق تلاش هاي فراموش ناشدني به خرج داد بالاخره دریك عملیات پیروزمندانه که از طرف مجاهدین حوزه النصر تحت قوماندانه برادر شفق یار دربالاي کمربند امنیتي شهر چهاریکار انجام ګرفت پس ازفتح هفت پوسته وبه هلاکت رسانیدن تعداد کثیر ازمزدوران روسي وبه غنیمت ګرفتن مقادیر زیاد سلاح ومهمات بایکتن ازبرادران هم سنګرش به تاریخ ۱۲ر۶ر۱۳۶۹ درحالیکه رویرو بادشمن مي جنګید به درجه رفیع شهادت نائل آمد.قابل ذکر است که برادر احمدزبیر پنجمین شهیدي است ازیك فامیل ، که درطول انقلاب درراه خداوند (ج) به شهادت رسیده اند . اناالله واناالیه راجعون

دهندحکومت دي دبابري جومات اومسلمانانو دامنیت مسؤلیت ترسره کړي

اسلام آباد (نواي وقت) :

دایران حکومت دهند داجودهیا په مبارکي ښاربابري جومات باندي متعصبوهندوانو دحملي اوجومات ته په زیان رسولو غم اوخپګان ښکاره کړي ، دهندله حکومت نه یي غوښتنه کړي چي بابري جومات ته په زیان رسولو دټولي نړي دمسلمانانو جذبات زیانمن شوي نوپدي لحاظ دهند حکومت ته پکاردي چي نه یوازي ددي جومات بلکي دمسلمانانو د ټولو مقدسه ځایونو اوخپله دمسلمانانوسر اومال حفاظت وکړي اودغه مسئولیت ترسره کړي اودمتعصبو هندوانو اونورو مذهبي دلودمسلمان وژونکو اقداماتو مخه ونیسي . دایران دبهرنیو چارو وزارت ویاند ویلي چي ، سره ددي چي دهند حکومت دجومات ساتنه کړله ولي متعصبو هندوانو په هغه حمله وکړه اوجومات ته یي زیان ورساوه چي مقصدیي دجومات شهیدول و. ویاند وویل دغي پیښي ټوله اسلامي نړي خاصتاً ایراني مسلمانان له سخت تشویش سره مخامخ کړي دي . ددي جومات پرسر په راولاړو شوو پیښو کي دهند په مختلفو ځایوکي ګڼ شمیر مسلمانان په شهادت رسیدلي چي دي کاردمسلمانانو تشویش نورهم اضافه کړي دي نودهندحکومت ته پکاردي چي پدي هکله لازم اقدامات وکړي اودمقدسه ځایونودحفاظت پوره خیال وساتي .

دصدام حسین پټه خزانه دعراقي ولس لپاره څلورکاله کفایت کوي

لندن (جنګ)

دعراق جمهوررئیس صدام حسین په خپله ماني کي څلورملیارده دالرپټ ساتلي چي دهغي له امله د عراق پرخلاف دملګروملتواقتصادي بندیزونه بي اثره دي . دغه خبره " میل " نومي برتیانوي ورځپاڼي کړي ده .

ورځپاڼه دعراق دیوه پخواني وزیرپه حواله داهم لیکي چي دعراق دجمهوررئیس په ماني کي دڅلورملیاردودالرودغه خزانه دعراقي ولس دڅلوروکالو خوراکي موادو اخستولپاره کافي ده . هغه وویل صدام حسین دغه ذخیره له اتلسو کالو راهیسي جمع کړي چي دهغي پواسطه دترکیي اوایران له لاري دعصري قاچاق سیستم له امله مواد پري اخستل کیږي دغه پټه خزانه د ۱۹۷۲ کال دعراق دتیلو دکمپني دملي کولو وروسته جوړه شوه ، په دي کي دیوملیارد دالروپه ارزښت ۷۰ ټنه سره زر هم شامل دي چي د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۰ کالو په اوږدوکي اخستل شویدي .

که په عراق دحملي نه کولو ضمانت ورکړل شي نو عراق به ټول یرغمل خوشي کړي

بغداد - (جنګ) :

دعراق جمهوررئیس صدام حسین ویلي چي ټولو اروپایي خلکوته به اجازه ورکړه شي چي له عراق اوکویت نه ووځي . پداسي حال کي چي دعراق دپارلمان ویاندویلي چي که چیري عراق ته ددي خبري ضمانت ورکړي شي چي امریکا به پرعراق حمله نه کوي نو ټول غیرملکي خلك به خوشي کړي شي له دي وراندي صدام حسین دیوه غربي هیواد دکارګرو داتحادیي له یوه هیئات سره داخبره کړه چي عراق په اروپایي کارګروته دوتلو اجازه ورکړي . خبررسونکي آژانس وایي چي دامعلومه نه ده چي څومره کارګروته به اجازه ورکړه شي .

خواوس دعراق واکمنو په واروار داویلي چي که دامنیت شوري دوه هیوادونه ددي ضمانت وکړي چي پرعراق به حمله نه کیږي نو دوي به ټولو یرغملو ته له عراق اوکویت نه دوتلو اجازه ورکړي .

اعضاي شوراي حوزه امام محمدشیباني انتخاب ګردید

طبق راپور واصله به منظور تصحیح پروګرامهاي تنظیم محصلین اعضاي شوراي حوزه امام محمد شیباني واقع درکمپ جلوزائي به تاریخ ۱۳ر۸ر۱۳۶۹ انتخاب ګردیدند .

نتائج انتخابات طورذیل اعلان ګردید :

۱- برادرعبدالرحمن بحیث ناظم حوزه
۲- برادرعبدالقادر بحیث معاون حوزه
۳- برادر محمداسلم مسئول ارتباط
۴- برادرمحمدآصف مسئول فرهنګي
۵- برادرنورحسن مسئول اطلاعات
۶- برادرعطاء الله مسئول مالي
۷- برادرعبیدالله مسئول پروګرام ها

دخوګیانیوپه ولسوالي کي دشهیدزاهد ابراهیمي دفاتحي مراسم ترسره شول

درارسیدلي رپوټ سره سم دپنجشنبي ورځ دلوم دمیاشتي په دریمه نیټه دتیوك دجبهي دسرګروپانو اومجاهدینو له خوا دشهید زاهد ابراهیمي دفاتحي مراسم ترسره شول .

دفاتحي مراسم چي دسهار په اتو بجو پیل شول په دغه پرتمینو مراسمو کي دخوګیانیو دولسوالي علماؤاوسپین ږیرو اودنوځري ولسوالي دټولو تنظیمونو قوماندانانو او مجاهدینوګډون کړي وو .

په دغه مراسموکي یوتعداد علما وګډوري خبري وکړي دغه مراسم دماسپښین په یوه بجه پاي ته ورسید ل .

دنوم بدلول

ورور دوراني دسلیمان شاه زوي دلوګر ولایت اودعبدالله ابن عباس دمدرسي شاګرد خپل نوم په نصرت الله " نصرتیار " باندي بدل کړي له دوستانو څخه هیله کوي چي نوموړي ورور دنصرت الله " نصرتیار " په نوم سره وپیژني .

محترم وروقاري صاحب نورقل دحاجي مست علي خان زوي دننګرهار ولایت دروداتو ولسوالي دنواني کوټ دکلي اوسیدونکي چي اوس په جمرود کي دحاجي شازمان په جومات کي دخطیب وظیفه سرته رسوي خپل نوم په قاري عبدالرحمن بدل کړي دوروڼو او اقاربو څخه ئي هیله کیږي چي پس له دي قاري نورقل دقاري عبدالرحمن په نامه وپیژني .

قومي مشر حاجي حیات خان په حق ورسید

مرحوم حاجي صاحب حیات خان په ۱۲۸۹ کال کي دپکتیا ولایت دخوست دلوي ولسوالي دصبریو په رحیم کلي کي پیداشوي و .

دصبریو دټول قوم عمومي مشرتوب ئي په غاړه واخیست اوخپل قوم ته ئي نه هیریدونکي خدمتونه کړیدي هغه په دي لارکي ډیرتکلیفونه ، اوزخمتونه ګاللي دي .

دظاهرشاه فاسد رژیم په وخت کي څوځوځله دخپل قوم دحقوقو غوښتلو په سر زندان ته اچول شوي دي ، مرحوم حاجي دایمانداري ، توري اوغیرت یونمونه شخص بلل کیده . دپاکستان په ګاونډي هیوادکي دانګریزانو په مقابل کي اوپه کشمیر کي دهندوانو په مقابل کي یي جهاد او غزاګاني کړي دي نوموړي دکشمیر په جنګ کي دلښکر مشرؤ که چي په کابل کي دروس کښیناولي حکومت راغلو نوموړي مرحوم پرته له ځنډه په وسلوال جهاد لاس پوري کړ .

بالاخره چي ژوندورسره نوره موافقه ونکړه په ۱۳۶۹ کال دعقرب دمیاشتي په ۶ نیټه ئي خپل روح لوي پروردګار ته تسلیم کړ اودازغاروشهیدانو په هدیره کي خاورونه وسپارل شو . اناالله واناالیه راجعون

عراق ګروګانهاي آلماني وبلژیکي را رها نمود

بن - ۱۴ عقرب :

روزیکشنبه عراق چهارده نفر ګروګان هاي آلماني ویکنفر بلژیکي را که ازآغاز حمله قواي عراق علیه کویت دربرج اسد ، تاحال دراسارت بسرمیبردند ، آزادنمود. رهاشدګان توسط طیاره به میدان هوائي عمان فرود آمدند وقراراست روزدوشنبه عازم فرانکفورت شوند .

عراق چهارنفر کار ګران پیمان کاري " ستررینګ " راقبل از ورود جونګن متعهدي این کمپني به بغداد، آزادنموده بود اما وزارت خارجه وکمپني مذکور این خبررا تصدیق نکرده اند .

همچنان صدراعظم اسبق جرمني مبني بررهائي چهارصدنفر ګروګان هاي آلماني روزدوشنبه به آنشکور سفرنماید.

منابع آګاه ګزارش نموده اند که رهائي ګروګان ها به سفر برانت ارتباطي نداشت

۲۵۰ نفر دربنګلدیش به اثر وباءازبین رفت

روزیك شنبه مقامات رسمي صحي ګزارش داده اند که ازطرف پنج هفته مرض اسهال فراګیر اضافه از ۳۵۰ نفر را کشته واضافه از دوهزارنفر دیګر دربنګله دیش به این مرض مبتلا ګردیده اند .

یك مقام رسمي به خبرنګاران ګفت این مرض ناشي ازاستعمال آبهاي آلوده است که بدون توجه دوکتوران وګروپ هاي صحي مورد استفاده مردم قرار میګیرند

تبدیل نام

برادرنورپاچا ولد سیداحمد ساکن قریه قلعه نو ولسوالي سرخرود ولایت ننګرهار فعلاً استاد در مدرسه تهکال بالامربوط حزب اسلامي افغانستان اسم خود را به سیدمحمد ولد سیداحمد تبدیل نموده ازدوستان واقارب شان خواهشمند است من بعد برادرنورپاچارا به اسم سید محمد بشناسند .

شهادت

بیانګرعقاید وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر : ریاست ارشاد وفرهنګ
سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر

هند له سخت سیاسي بحران سره مخامخ دي

راولپنډي (جنګ) :

دهند دجنتادل پارټي مشر اودوي . پي ، سنګ پخواني مرستیال دیوي لعل ، له صدراعظم وي . پي . سنګ نه غوښتنه کړي چي دجنتادل پارټي له قیادت نه دي استعفي وکړي ، هغه تیره ورځ په یوه مطبوعاتي مرکه کي وویل که چیري وي . پي . سنګ له دغه مقام نه استعفي ونه کړي نو دوي به یل مشر ځانته وټاکي او نوي پارلماني لیډریه انتخاب کړي .

دجنتادل پارټي به چي دپنځو تنظیمو نو اتحادي دچهارشنبي په ورځ په پارلمان کي خپل اکثریت ثابتوي ځکه چي دبابري جومات دکشالي په سرمتعصبو هندوانو دهغه له ملاترنه لاس اخستي ، له دي امله په هند کي لوي سیاسي بحران رامنځته شوي .

کیداي شي جنتادل داسي پارلماني لیډرتعین کړي چي په پارلمان کي اکثریت ترلاسه کړي خوبیا هرصورت په هند کي پارلماني انتخابات حتمي دي .

دحضرت ابي طالب دمدرسي زده کونکي دنظامي زده کړي په حال کي

یك زنداني فلسطیني کشته شد

بیت المقدس - ۱۳ عقرب :

ضمن تظاهراتي که بخاطر قتل یك جوان فلسطیني درزندان بدست سربازان اسرائیلي درمناطق اشغالي نوارغزه رخداد یك جوان فلسطیني کشته وبیش ازیکصد نفر مجروح ګردید .

کشتار جوان سي ودوساله فلسطیني بدست عمال رژیم صهیونیستي درزندان غزه باعث تظاهرات درزادګاهش بیت صتون ګردید ومتعاقباً سراسر منطقه غزه را فراګرفت .

به اساس ګزارش منابع پولیس اسرائیل ، زنداني مذکورشخصاً خودرا در اطاق زندانش بدار آویخت اما فامیل وي اظهارنموده اند که موصوف هنګام استنطاق ویادرجریان تعذیب وشکنجه به شهادت رسیده است .

منابع خبري اسرائیل وفلسطین ګزارش نموده اند که حین آتش پولیس بروي تظاهرکنندګان دربیت صتون چهل چهارنفر مجروح ګردید که ازجمله عزت الباسیوني جوان نوزده ساله که درقسمت سرش جراحت برداشته بود درحالت وخم قرارداشت . ودردیګر نقاط غزه نیز تظاهرکنندګان هدف آتش پولیس رژیم صهیونیستي قرارګرفته اضافه ازشصت نفر زخمي ګردیده اند .

دلاس پوځي رژیم

... واناالیه راجعون

دیویل خبر له مخي دتلي دمیاشتي په ۲۰ مه نیټه دورور نهضت یار مجاهدینو دشهرنودلاري په اوږدوکي دملحد رژیم په یوه قواحمله وکړه او ۱۱۰ تنه عسکري ووژل

ژوندي ونیول شو .

په همدي ډول دروان کال دتلي دمیاشتي په ۲۲ مه نیټه دشهرنو او شهرکهنه په لویه لارکي دوي پوستي فتح او ۶ مه او ۱۸ مه کوځه دمجاهدینو په لاس کي ورغله .

دائل قوماندان صوفي پاینده محمد په یوه رالیږل شوي رپوټ کي ویل کیږي چي دروان کال دتلي دمیاشتي په ۲۴ مه نیټه دیوي مخامخ نښتي په ترځ کي ۳ زغروال ټانکونه ویجاړ او ۴ عرادي موټر ، ۳ کسه صاحب منصبان او ۱۱ عسکر له منځه یوړل شول درالیږل شویو رپوټونو په دوران کي ویل کیږي چي دروان کال دتلي دمیاشتي په ۲۱ مه نیټه دبغلان ولایت فابریکي ته نژدي ۶ عرادي زغروال ټانکونه ویجاړ ۲ پوستي فتح او ۱۲ کسه کمونستان ووژل شول .

په دي عملیاتوکي دقهرمانو غازیانو دوه کلي لګي اودراني ویجاړ او ۶ کسه مجاهدین په شهادت ورسیدل . اناالله

میلاد مسعود

دانشه - رابورسي افزاید که درین جلسه تعدادي ازعلماکرام راجع به اخلاق وسیرت پیغمبر(ص) بیانات سودمندي ایراد نمودند برعلاوه آن راجع به مظالم روس ها وکمونیزم وسازش هاي شرق وغرب سحنراني صورت ګرفته برطبه هاي شرق وغرب محکوم ګردید

دځمکنیوپه ولسوالي کي

په ترځ کي دامر بالمعروف اونهي عن المنکر په نوم یوه شرعي کمیټه جوړه کړه ددي کمیټي لپاره دهریوه جهادي تنظیم یویوکس انتخاب شو دحزب اسلامي له اړخه محترم اومجاهد ورور حاجي رحیم ګل دنوموړي کمیټي دیاصلاحیته امیر په توګه وټاکل شو چي ورځني پیښي اومشکلات به دالهي ارشاداتو مطابق اودحنفي فقي مطابق حل وفصل کوي اوزیات امکان شته چي نوموړي کمیټه به دولسوالي په ټولو میشته سیموکي دمجاهدینو همامنګي او انتخابات ترسره کړي .

په عکس کي دظفرغونډنوميالي مجاهد رقیب الله وینئ چي خپل بدن یي ددښمن په بمبارکي په اوربموسره کباب شوي دي

قابل توجه علاقه مندان لسان

کورس هاي لسان کابل سنترباسابقه درخشان خودباسیستم " انترکم " آماده تدریس میباشد برادرانیکه خواهش فراګرفتن لسان انګلیسي راداشته باشند لطفاً هرچه زودتر ثبت نام نموده ، ثبت نام جریان دارد .

آدرس : منزل تحتاني اورکزایي پلازه چوك یونیورسټي ټاون - جمرود روډ - پشاور

وقت داخله ازـ۸ صبح الي هفت شام .

پوسټ بکس : (۱۰۲۸)
یونیورسټي ټاون پشاور
تلفن نمبر ۶۳۷۸۹ - 30224 پشاور

مجاهد ورور محمد شریف په شهادت ورسید

په ډیر ه خواشني سره موخبر ترلاسه کړچي دوردګو اومیدان ولایت دسیدآباد ولسوالي دشیخ آباددسیمي دزین خان خیلو دکلي اوسیدونکي مجاهد ورور محمدشریف دنصرالله خان زوي چي په ۱۳۵۹ کال ئي په مسلحانه جهاد لاس پوري کړي و اوپه ګڼ شمیر عملیاتو کي ئي په پوره میړانه اوشهامت ونډه اخیستي وه بالاخره دروان کال دتلي دمیاشتي په اوومه (۷) نیټه په شهادت ورسید. روح ئي ښادوي .